# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# ورک شوے زوئ




لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries



مددگار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.






عیسی مسیح خلقو ته د خدائ پاک دمعافئ په باره کښې وئیل خوښول. خو د یهودیانو مشرانو ګناه ګارانو سرا د ملګرتیا په باره کښې شکایت وکړو. خو عیسی د دې خبرې ښکاره کولو د پاره هغوئ ته درې قیصئ وکړې. کله چې یو ګناهګاره د خپلو ګناهونو نه توبه وباسی نو خدائ پاز خوشحاله شی.



وړومبۍ قیصه دا وه چې یو سړے وو هغهٔ
سره سل ګډې وې.
د هغهٔ نه یوه ګډه ورکه
شوه. نو شپون هغه یو
کم سل ګډې پرېښودې،
او د هغه ورکې شوې ګډې
په تلاش کښې ووتلو.

3



هغه شپونکی د هغې ګډې تر هغې پورې
په تلاش کښې وو ترڅو يې چې هغه پيدا
کړې نهٔ وه. او چې کله يې هغه
پيدا کړه نو هغه په خپلو اوږو
ته اوچته کړه. او په خوشحالۍ
خوشحالۍ يې کور ته راوستله.
هغهٔ خپلو ملګرو ته ووئيل،

ما سره په دې خوشحالۍ کښې
شريک شئ. ځکه چې ما ته خپله
ورکه شوې ګډه واپس ملاو شوه.

4



عیسی مسیح د دې
وضاحت وکړو چې د یو
توبه ګار په توبې ویستلو
باندې په آسمان کښې ډېره
خوشحاله کیږی. د توبې
ویستلو دا مطلب دے
چې د خپلو ګناهونو
معافی داسې وغوښتے
شی چې هغه ګناه
پرېښودے شی.

5



د عیسی بله قیصې د یوې
ښځې په باره کښې وه چا
سره چې د سپینو زرو لس
سیکې وې. کیدے شی
چې دا د هغې د ټول ژوند
بچت وو. خو د افسوس
خبره دا وه چې د هغې نه
یوه سیکه ورکه شوه.

6



هغه ښځې
په ټول کور
کښې صفائی
وکړه او هغه
سیکه یې
ولټوله.

آخر دا چې هغې ته خپله ورکه شوې
سیکه ملاو شوه. او هغه ډېره زیاته
خوشحاله وه. آیا تاسو ته پته شته دے
چې هغې څهٔ وکړل؟ آو جی هغې
خپلو ټولو دوستانو ته ووئیل.

7



عیسی بیا دوباره
ووئیل، چې د یو
ګناه ګار په توبه
ویستلو باندې په
آسمان کښې فرښتې
خوشحالی کوی.

8

دربهمه قیصئ چې عیسی بیان
کړه هغه ډېره د خفګان وه. دا د
هغه هلک په باره کښې ده چا
چې د خپل پلار کور پرېښودو.



9

په یو لرې ملک کښې هلک په بې وقوفۍ سره خپلې پیسې
خرچ کړې. اس هغه څۀ کولے شو؟ او حالات دومره
خراب شو چې په هغه ملک باندې قحط راغلو. نو دغه
هلک د لوږې نه مړ کېدو.



10

هغه هلک چې د لوږې نه مړ کېدو هغۀ ته د خنزېرانو د
څرولو کار ملاو شو. خو په هغۀ باندې چا هم ډوډۍ ونۀ
خوړله. هغۀ به ښۀ په خوشحالۍ باندې خنزیرانو د
خوراک نه خوراک کولو.



11

کېدے شی چې هغه داسې کړی وی. بیا هغه هلک سوچ
وکړو او په هوش کښې راغلو. او هغۀ سوچ وکړه چې زما
د پلار په کور کښې نوکران هم زما نه ښۀ ډوډۍ خوری.



12

نو زۀ به خپل کور ته لاړ شم او
خپل پلار ته به ووایم. چې ما چې
کمه ګناه کړې ده زۀ د هغې معافی
غواړم. زۀ نور د هغۀ د
زوئ جوړېدو قابل نۀ یم.
خو زما پوره اُمید دے چې
هغه به ما د یو نوکر په
طور باني وساتی.



13

هغه هلک له د کور نه لرې وو. نو د هغۀ پلار هغه
ولیدو چې راروان وو. نو د هغۀ پلار ډېر په خوشحالۍ
سره د هغۀ طرف ته ورمنډه کړه. او هغۀ خپل
هغه زوئ ښکل او را
غاړه یې ویستلو.



14



پلاره ما ستا خلاف ګناه کړې ده.
زهٔ ستا د زوئ جوړېدو لائق نهٔ
يم. او هغه هلک خپل پلار ته دا
وئيل غوښتل چې هغه يې د يو
نوکر په طور باندې وساتی. خو
پلار هغه د دې وئيلو نه منع
کړو. او وې وئيل چې زما د
زوئ د پاره ښهٔ چوغه
راوړئ، او څپلۍ او ګوته
هم راوړئ. او د دهٔ د پاره
ښهٔ خوراک تيار کړئ.

15



دا يو ډېر ښهٔ دعوت وو ځکه چې يو ورک شوے زوئ
واپس راغلے وو. عيسى مسيح دا قيصه په دې وجه وکړه.
ځکه هغه دا ښکاره کړی
چې خدائ پاک څنګه
ګناه ګاران قبولول
خوښوی، څوک
چې توبه وکړه او
خدائ پاک ته
راوګرځی.

16

ورک شوے زوئ

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

لوقا ۱۵

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ."
زبور 130:119

17



ختم شو

45 60

18

دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پيدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چې مونږ ډير علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عيسی باندې ايمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کهٔ تهٔ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زهٔ
ايمان لرم چې هم تهٔ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا۳:۱۲

19